STADT GRAZ

# معلوماتی پانه د ګراز د ښارد بشـــپړکـــولو اعلامیی (انتِګراسیون) په هکله

د بشپړکولو اعلامیی (انتِګراسیون) د 2016 کال د فبروری د میاشتی پر 25 نیټه کی د ښاروالی په جلسه کی فیصله کړه. د ګراز ښار غواړی چه تاسو ته د مشترک ژوند کړن لاری په هکله معلومات درکړی او د ټولو ترمخه ستاسو څخه د بشپړکولو د اعلامیی (انتِګراسیون) د تطبیق او کوښښ تمه لری.

د ګراز ښار تاسو ته دیر چانسونه ( امکانات) وراندی کوی. د دی په مقابل کی له ستاسو څخه تمه لری چه تاسی ډاډ ورکړی چه تاسی او هم ستاسو فامیل خپل ځانونو په اجتماع کی په ښه ټوګه کی برابر( اعیار) کړی او د ګراز د ښار او یا د اطریش د هیواد د یو فعال وګړی په حیث وګرځی.

یو امضا شوی بشپړکولو اعلامیی (انتِګراسیون) د لاندینو سوسیالی خدماتود پاره شرط دی:

- د سوسیال کارت؛
- د ښاروالی کورونه؛
- د ماشـــومانود پوهنی او روزنـــــی د پاره ټاکل شـــوی سوسیـــالی لایحه ( ټولنیزمرسته) ، پر ته له ورکتون څخه؛
- د سپورت او د تفریحی کورسونه د سپورت د مسولین له خوا؛
- د تفریحی کورسونه د ځوانانواو فامیلی سازمان له خوا؛
- داقتصاد ودې او مرسته.

د هر یو د پورتنیو ذکرشوی سوسیالی خدماتو د درخواست د پاره همیشه باید د یو لاسلیک شوی د بشپړکولو اعلامیی ( انتِګراسیون) وربنکاره شی او یا دا اعلامیه په هم هغه ځای کی لاسلیک شی.

فامیلی نوم/Familienname:

نوم/Vorname:

د پیدائښت نیټه/Geburtsdatum:

تابعیت/Staatsangehörigkeit:

د الکترونیکی آدرس (د ایمل آدرس)/E-Mail-Adresse:

# د بشپړکونو ( انتِګراسیون) اعـــلامیه

## I. ســـریزی

د ګراز د ښار د ۲۰۰۱ کال ښځه را په دی خوا د انسانانو د حقوقو د ښار په ټوګه بیان کړیدی او د دی بیان تر مفهوم لاندی د اطریش د جمهوری دولت او همداسی د شتیرمارک د فدرال سره یو ځای د دریم هیواد اتباع، پناه غوښتونکو او د ژغورولو مستحق کسانو د پاره د بشپړکونو په عرصه کی لوی خدمات سرته رسوی تر څو چه د مختلوفو هیوادو د خلکو او تاریخ د پاره د سولیز او مشترک ژوند ملاتړ وکړی. د ګراز په ښار کی د اصلی استوګنځی د راجستر او یا ثبت په واسطه تاسی به هم د دی ټولنی یوه برخه شی. هغه امکانات او چانسونه چه دغه ټولنه تاسو ته وړاندی کوی، ورڅخه ا ستفاده وکړی. د دی په بدل کی تاسی باید زمونږ د ټولنی اساسی مقررات او شرایطو ته احترام او تطبیق کړی. له دی امله ستاسو له فعاله همکاری څخه د بشپړکونو په چوکاټ کی تمه کیږی.

د دی د بشپړکونو اعلامیه سره غواړم چه تاسو ته د ګډ ژوند مهم او اساسی کړن لاری په هکله معلومات وړاندی کړم. سر بیره پر دی مونږ غواړو تاسو ته خپور کړو چه په اطریش کی د خکلکو څخه د بشپړکونو کوم اقدامات تمه کیږی تر څو چه وکولای شو په ټولنه کی د اجتماعی امن او هم د یو مثبت د ګډ ژوند تضمین وکړو.

# II. اساسی معیارونه او کړن لاری

- د اطریش هیواد یو دموکراتیک جمهوریت دی. قوانین د مفاهیمی او د رائی د ورکولو د قواعدو او کړن لاری په اساس منځ ته راځی.
- اطریش د قانون د حاکمیت یو هیواد دی. د جنګونو په هکله دولتی مقامات، پولیس او محکمه تصمیم نیسی، دغه ارګانونه د دولت له خوا د قانون پر بنسټ ټاکل کیږی .
- دولت د دموکراتیکو تصویب شوی قوانینو پر اساس په خپلواکه ټوګه باندی له مذهب څخه لیری اجراات کوی.
- قانون د هر ډول جسمانی او هم روانی تاوتریخوالی ممانعت کوی، په ځانګړی ټوګه د ماشومانو او د ښځو پر ضد. دا قانون هم د شخصی او عامه سیمه کی ګنل کیږی.
- هر څوک په اطریش کی کولای شی چه خپل شخصی ژوند ( مذهب، دودونه، سرګرمی او جنسی غوښتونو) ته بنه ورکړی په دی شرط چه د قانون پر خلاف نه وی.
- په اطریش کی ښځه او نارینه یوشان حقوق لری. دواړه کولای شی چه د خپل ژوند ټول اړخونو وټاکی.
- د کوچیانو (انجونی او هلکانو) د پاره یو مشترک وړکتون او د درس مکلفیت موجود دی .

مفصل معلوماتونه د اساسی معیارونه او کړن لاری په هکله او هم د نورو موضوعاتو په هکله د معیارونو او لاربښونی کورسونو څخه چه د ګراز د ښار او د انټګراسیون فوند د متقابل همکاری پر اساس پیشنهاد کیږی تر لاسه کولای شی.

<u>**یاملـــرنه**</u>: د قانون څخه سرغړونی په اطریش کی حقوقی بندیزونه لری. دا بندیزونه له نقدی جریمی او د قید جزا څخه شروع تر استوګینو د اجازی د بیرته اخیستلو پوری.

# III. کـــــار او اجتماعی سیستم (سوسیالی سیستم)

کار د اطریش په ټولنه کی یو مهمه برخه ده. په اطریش کی اقتصاد او اجتماعی سیستم قرار قرار رشد کوی. په دی خاطر د نارینو او ښځنو د مختلفو نسلونو د کار او فعالیت ډیر ضروری وو. ټول نارینه او ښځینه کار ور کونکی (کار فرما) او هم نارینه او ښځینه کارګرانو په اجتماعی سیستم (سوسیالی سیستم) کی پیسی ورکوی. یوازی په دغه بڼه کی امکان لری چه دا سیستم ډاډمن شی تر څو چه زمونږ په اجتماع کی زیانمندونکو ته مرسته ورسوو او کاری ژوند ته د داخلیدو امکانات برابر شی.

**Integrationserklärung der Stadt Graz**
Sprache: Pashto

د بشپړکونو مهم هدف دا دی چه د اقتصادی له لحاظه تاسی پخپله کوښښ وکړی تر څو چه د دولت له خوا کوم مالی مرستو ته احتیاج نشی. نو د د ی د پاره چه تاسی بیرته وکولای شی کاری ژوند ته دننه شی او پر خپلو پښو باندی ودریږی، باید تاسی پخپله فعال شی او خپلو مهارتونو ته وده ورکړی او له خپلو صلاحیتونو څخه په فعاله توګه کار واخلی. له دی امله د اطریش دولت ستاسو څخه تمه کوی چه:

- د کار د اخیستلو چمتووالی؛
- د هغی مهارتونود اخیستلو چه د اطریش د کار د بازار د پاره مهم دی او په ځانګره توګه د المانی د ژبی زده کول.

**پامـــــلرنه:** باید تاسو ته خاطر نشان وکړو که چیری تاسی د دولت له خوا د لااقل پیسی تر لاسه کوی اود کار د اخستیلو او یا د مهارتونو د پای ته رسولو اقدامات رد کوی بیا به د حقوقی له لحاظه ستاسو د لااقل پیسی ۵۰ فیصده قطع شی او په خصوصی حالاتو کی امکان لری چه ډیر قطع شی.

په دغه وسیله باندی زه د ګډ ژوند د اساسی قواعدو په هکله معلوماتونه سره په اطریش کی موافق یم او تائید وم ئی .

زه موافق یم چه زما له خوا تکمیل شوی د بشپړکونو اعلامیی چه په هغه کی زما په هکله ارقامونه ( معلومات لکه نوم، فامیلی نوم، آدرس او نور ) دی د ګراز د ښار له خوا د درخواست په چوکاټ کی اجرا شی او زما ارقامونه یعنی معلومات د راتلونکی غوښتنلیکونه د پخپله خوښه ملاتړ دپاره د ګراز د ښار د اجراتو د پاره استفاده وشی.

د ارقامونه د ساتلو د قواعد پر اساس د ګراز د ښار د پخپله خوښه ملاتړپه ارتباط د یو طرفه د الغا امکان اعلامیه چه په تحریری ډول باندی موجوده ده موافق یم.

Ort, Datum / ځای، تاریخ

Unterschrift / لاسلیک